ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

# د خوشحال بابا په "سوات نامه" کښې د نباتاتو تذکره

## Variety of plants discussed in Khushal's "Swatnama"

Muhammad Sajid[1]

Najeeb Ullah Khan[2]

Sana Gul[3]

Abstract

Khushal Baba is a poet par excellence of Pashto language. He is versatile in his poetic thought and no area of life escapes his genius; warfare, patriotism, morality, romance, love, nature, hunting and mysticism, validating his keen observation of life, nature and all living creatures. This research paper is a categorical analysis of the plants mentioned in his distinct book "Swatnama". The aim of the study is to show how his poetic genius connects to the flora of the outer world and to reveal how much well-grounded he was in his surroundings and well connected with nature and all its manifestations. This will establish his standing as a Pashtun poet with extraordinary abilities and who could not ignore science no matter he wrote powerful verses and aesthetics were important to him. Due to climate change many species of plants become endangered and extinct. This comparative study also show the status of flora of Swat above four centuries back.

*Key words: Khushal Khan Khattak, Swatnama, Flora*

خوشحال بابا د پښتو ادب او تاریخ یوه پېژندلے نوم دے چې د کار او بخښنو له مخه د پښتون قام د همه نوموړي شخصیاتو په قطار کښې د ټولو نه په لوړه څوکۍ دے. موصوف یو داسې یوائځنے همه ګیر شخصیت دے چې نۀ یوائځې ئې په ادب کښې ځان په هر چا منلے بلکې هغه د یو ملي مبارز په حېث د ټول هندوستان په سیاست کښې عموماً او د پښتون قام په سیاست کښې خصوصاً داسې رول لوبولے چې د هغه مخالفین هم ترې انکار نۀ شي کولے.

دا نوموړے شخصیت د جهانګیر بادشاه په زمانه کښې په کال ۱۶۱۳ء کښې پر سرائے اکوړي کښې زیږېدلے وۀ[1]. دغه ځائے ته ملک پور هم وئیلے کېدۀ. دا ځائے د پېښور نه تقریباً ۳۵ میله واټن باندې شمالاً مشرق طرف ته او جنوباً د کابل د سیند په غاړه په شاهي سړک پروت دے[2]. دا کلے دا خوشحال خان د اور نیکه ملک اکوړي په نوم اباد شوے وۀ. د ملک اکوړي زوے یحیٰی خان وۀ، د یحیٰی خان زوے شهباز خان وۀ او د شهباز خان زوے خوشحال خان وۀ.

[1] Lecturer, Department of Pashto, University of Swat
[2] PhD Research Scholar, Department of Pashto & Oriental Languages University of Malakand
[3] MPhil Research Scholar, Department of Pashto, AWKUM Mardan.

بابا د پښتو ادبیاتو د دریم دور سر خېل دے ۔ د دۀ شاعري د ډېرو موضوعاتو احاطه کوي چې پکښې رزمیت، حماسیت، قومیت، اخلاقیات، عشق و جنس، ښکار او سېل سره سره تصوف اهم اړخونه دي۔ خوشحال بابا په شاعرئ کښې ټول موضوعات د ډېرو فني باریکو سره ځاے کړي دي۔

د خوشحال بابا د تصانیفو په حقله میا سید رسول رسا لیکي:

"خوشحال خان د نظم او نثر د ډېرو کتابونو مصنف دے چې د ځنو نومونه ورکښې دا دي ۱ ۔کلیات خوشحال خان، ۲ ۔دستار نامه،۳ ۔ فضل نامه، ۴ ۔ بازنامه، ۵ ۔سوات نامه،۶ ۔ زنځیرئ، ۷ ۔بیاض، ۸ ۔هدایه،۹ ۔ آئینه، ۱۰ ۔ فراق نامه، ۱۱ ۔ فرضنامه، ۱۲ ۔طِبّ منظوم"[3]۔

د خوشحال بابا د نورو کتابونو تر څنګ یو کتاب "سوات نامه" هم ده۔ "سوات نامه" د خوشحال خان خټک په ځانګړي تصنیفاتو کښې یو اهم تصنیف دے چې د خوشحال د هر اړخیزې هنرمندئ عکاسي کوي۔دا کتاب د نوموړي یوسفزي سرادارانو سره سره د نوموړي مبارزینو اخون درویزه او پیر روښان په حقله هم د خوشحال افکار څرګندوي چې پکښې موصوف د دغې دواړو شخصیاتو په اړه او د هغوي د فکر و فن په باب کښې د قدر وړ علمي او ادبي نقطې څېړلي دي۔ په دې وجه دې کتاب ته د پښتو ادب د وړومبي علمي تنقیدي بحثونو په وجه د دغې علم په اړه اولیت ورکولے شي او نوموړي خوشحال ته د پښتو ادب د باقاعده علمي نقاد اعزاز وربخښي۔د یو شمېر خوبو نه برجقه دغې کتاب سوات نامې ته د پښتو ادب د اولنئ سفرنامې د اعزاز سره دا اعزاز هم حاصل دے چې دا د پښتو ادب اولنے طویل نظم هم دے۔

د خوشحال بابا ټول کتابونه په خپل ځاے د اهمیت جوګه دي۔ ولې سوات نامه ئې یو داسې تصنیف دے چې د بابا د ټول کمال زور پکښې په موجونو دے۔ دا قیمتي تصنیف هغه سوات ته د یون په اوان قلمبند کړے دے۔ دا تصنیف (سوات نامه) د نوموړي خوشحال خان خټک د هغې مهم سفر احوال رانښائي کوم چې هغه د مغلو سره د اختلاف نه پس تر سواته کړے وۀ او هلته ئې تقریباً په یو کال مشتمله موده تېره کړې وه۔په سوات نامه کښې خوشحال بابا د سوات جغرافیه، د سوات حدود اربعه، د سوات د ملکانو او خانانو د ذکر تر څنګ د بایزید روښان او اخونددرویزه بابا په حقله خپل نظر څرګند کړے دے۔ د دې تصنیف په ځنې اشعارو کښې خوشحال بابا د ونو بوټو ذکر کړے دے۔ دا خو ئې یا استعارتاً کارولي دي او یا ئې په شعر کښې تشبیهاتو په طور راوړي دي۔ د دغه ذکر نه وړاندې دا خبره ضروري ده چې د سوات حدود اربعه د خوشحال بابا په وخت کښې څه وه؟ خوشحال بابا ئې داسې بیانوي۔

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

وشمال و ته ئې غر بلورستان دے
شرق کشمیر، غرب ئې کابل او بدخشان دے
هندوستان وته تور غر لرې بد غاشې
پرې خاتۀ به د لښکرو په غوغا شې[4]

د سوات شمال ته بلورستان دے۔ د بلورستان په حقله جېمز، بي، مېهان لیکي

**"Balors means "highlanders, it is believed to have come from "Bala" meaning high or upper, thus it means land of highlanders"[5]**

بلورستان د دوه لفظونو بلور: چې معنیٰ ئې اوچت دے او ستان د اوسېدو ځاے۔ نو د بلورستان نه مطلب هغه علاقه شوه چې د سمندر د سطحې نه اوچته وي۔ تاریخي طور د ګلګت بلتستان سیمې ته "لوے بلور" وئیلے شوے دے۔ د سوات شمال اړخ د ګلګت بلتستان سره لګېدلے دے۔ مشرق طرف ته ئې کشمیر او مغرب طرف ته ئې کابل او بدخشان دي۔ او جنوب طرف ته ئې د پښتونخوا وطن سیمې لګېدلې دي۔

خوشحال بابا چې د کومو بوټو ذکر کړے دے په هغې کښې نرګس، ګل رخسار، شړشم، ډنبره، پلوسه، سېب (منه)، شلغم، انار،بهي، اوربشې او توت شامل دي۔ مونږ غواړو چې په یو یو بوټي بحث وکړو۔

۱۔نرګس: د دې بوټي ګلونه ډېر مشهور دي۔د دې ګلونه سپین او خوشبودار وي۔ عموماً دا بوټے ګلونه په ژمي باندې سپړي۔ د دې بوټي سائنسي نوم[6] *Narcissus poeticus* دے۔ نرګس په بهر دنیا کښې کرلے کیږي۔ د پښتونخوا وطن په مقبرو کښې اکثر د نرګسو ګلونه په نظر راځي۔ د نرګس ذکر په سوات نامه کښې په دوه شعرونو کښې راغلے دے۔

یو خوسران چې په حضور د وادۀ کار وو
بل ئې بوئي د نرګس زار دریم شکار وو
تماشۀ د نرګس زار وه که د شکار وه

پۀ پیرى کښې راپېرزو د کردګار وه[7]



(https://worldoffloweringplants.com/wp-content/uploads/2014/11/Narcissus-poeticus-Pheasants-Eye-Daffodil1.jpg)

۲ ۔ شړشم: د شړشم بوټي سائنسي نوم Brassica campestris دے ۔ د شړشم بوټي د سبزى په ځاے استعماليږي او خلک ئې پخوي او د دې د تخم نه تېل وېستلے کيږي دغه تېل د خوراک او وېښتو غوړولو دپاره کارول کيږي[8]۔ شړشم په ټول پښتونخوا وطن کښې کيږي۔ د دې ګلونه په سپرلي کښې ټوکيږي۔ په سوات نامه کښې خوشحال بابا د شړشمو ذکر داسې کوي

کۀ پۀ کور کښې خزانې لري د زرو
بيا خوارۀ خوري په شړشمو پۀ ډنبرو[9]



(http://img.lisky.org.ua/i800637302.jpg)

حرف و سخن
HARF-O-SUKHAN
ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

۳۔ ړنبره: په پورته ذکر شوي شعر کښې بابا د شړشم سره د ړنبرې ذکر هم کړے دے۔ د ړنبرې سائنسي نوم[10] **Zanthoxylem armatum** دے۔ د ړنبرې بوټے غنې وي۔ پاڼې ئې هم غنې غنې وي۔ د دې تخم لکه د مرچ او دانيالو په شان د ذائقې جوړولو دپاره کارول کېږي۔

11



[https://www.researchgate.net/figure/Zanthoxylum-armatum-A-B-twig-with-unripe-fruits-C-twig-with-ripened-fruits-d_fig1_283095550](https://www.researchgate.net/figure/Zanthoxylum-armatum-A-B-twig-with-unripe-fruits-C-twig-with-ripened-fruits-d_fig1_283095550)

۴۔ پلوسه: د پلوسې سائنسي نوم **Acacia modesta** دے۔ دا په افغانستان، پاکستان او هندوستان کښې کېږي۔ د پاکستان په د سندھ صوبې نه علاوه په باقي درې صوبو کښې موندے کېږي۔ د پلوسې لرګي د اور بلولو او مسواک جوړولو دپاره په کار راوستے شي ۔ د دې نه علاوه پلوسه په مختلفو دوايانو کښې هم استعماليږي[12]۔

په سوات نامه کښې د پلوسې ذکر داسې راغلے دے۔

پکښې نشته مېوه دارې باغې ونې
همګي د غره پلوسې دي يا غنې[13]



ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

https://4.bp.blogspot.com/-VU1rPg6MuM4/U9989Q94HUI/AAAAAAAAOFI/tVGKtMscErg/s1600/acacia-modesta-1.jpg

۵۔سېب: سېب د منه هم وائي سائنسي نوم ئې Pyrus malus [14] دے۔ د منې ونه سپین ګلونه کوي۔ او بیا د هغې ګلونه نه ښکلې ښکلې د منې دانې جوړیږي۔ د منې دانې د دوه نه واخله تر دوه نیمو انچو پورې پلنوالے لري۔ د منې رنګونه هم بېلابېل وي۔ ځنې منې سرې وي، ځنې زیړې وي او ځینې توربخنې سرې وي۔ منه د صحت دپاره ډېره مهمه ده۔ د منې جوس او جیلي هم جوړیدے شي۔ د پښتنو په فوک لور کښې د منې په حقله دا متل ډېر مشهور دے "کۀ شپه تیارۀ ده خو منې په شمار دي"[15]۔ په سوات نامه کښې د سېب ذکر داسې راغلے دے۔

دُر سپیه کاني یاقوت ورته یو شان دي
سېب، شلغم، انار بهي ورته یو شان دي[16]

خوشحال بابا بل ځاے کښې منه په شعر کښې داسې راوړې ده۔

سپینه زنه ئې منه سمرقندي ده
ګوره څوک به خوړ کا زړۀ په دا منې[17]



Source: (https://cdn1.sph.harvard.edu/wp-content/uploads/sites/30/2018/10/apple-2711629_1920-1024x768.jpg)

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

۶ ۔ شلغم: شلغم ته بل نوم ټیپر هم وائي۔ د دې سائنسي نوم Brassica rapa دے۔ د ټیپر په حقله وئیلے شي چې دا د منځنۍ او مشرقي ایشیا نه راخور شوے دے۔ نن سبا دا په ټولو معتدله سیمو کښې کرل کیږي[18]۔ ټیپر یا شلغم لکه د مولۍ او ګاځرې شان د زمکې دننه میوه لري۔ عام طور دا د سبزۍ په ځاے استعمالیږي۔ خلک ئې د صالن په ځاے استعمالوي۔ د دې رنګ سور بخن وي۔

د ټیپر ذکر په متل کښې هم راغلے دے۔ لکه دا متل "د ټیپرو په تول ئې ورکړه"[19] د شلغم په حقله په سوات نامه کښې داسې شعر دے۔

دُر سپیه کاڼي یاقوت ورته یو شان دي
سبب، شلغم، انار بهي ورته یو شان دي[20]



Source: https://en.wikipedia.org/wiki/Turnip#/media/File:Turnip_2622027.jpg

۷ ۔ انار: انار یو ډېر مشهور او قیمتي بوټے دے۔ د انار میوه ډېر تاریخي او کلتوري ارزښت لري۔ د دې سائنسي نوم Punica granatum[21] دے۔ انار د نړۍ تر ټولو زړه میوه ده۔ موجوده ایران او هندوستان ئې د کېدلو ځایونه دي۔ د نړۍ په مختلفو تهذیبونو او مذهبونو کښې ورته په بېلابېلو زاویو کتلے شي۔ د صحت دپاره ډېر ښه دے۔ د ډېرو ناروغو علاج په انار کښې دے په سوات نامه کښې د انار ذکر داسې راغلے دے۔

دُر سپیه کاڼي یاقوت ورته یو شان دي
سبب، شلغم، انار بهي ورته یو شان دي[22]

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024



Source: (https://www.researchgate.net/figure/Pomegranate-Punica-granatum-fruit_fig2_330083838

۸۔بهي: بهې د میوې یو بل بوټې دے۔ په سوات کښې عام طور دې ته "بیهے" وائي۔ دا د ټانګو یو قسم دے۔ د دې سائنسي نوم **Cydonia oblonga** دے۔ دا وروکوټې ونه وي او لکه د منې په شان میوې نیسي۔ دا په ایران او ترکي کښې کیږي۔ د دې میوه زورور بوئي لري او په خله کښې خېم هم پېدا کوي۔دا مېوه د صحت دپاره ډېره ګټوره ده۔[23] ۔ په سوات نامه کښې خوشحال بابا د بهي ذکر داسې کوي۔

دُر سپیه کاني یاقوت ورته یو شان دي
سېب، شلغم، انار بهي ورته یو شان دي[24]



Source: https://www.cosmacon.de/wp-content/uploads/2018/07/Quitte-1404x1055.jpg

خوشحال بابا سېب، شلغم او انار د شکل په حساب د یو بل سره موازنه کړي دي. او په طنزیه انداز کښې ئې وئیلي دي چې یوسفزو ته سېب، شلغم ، انار او بهي یو شان دي.

۸ ـ اوربشې: د دې سائنسي نوم **Hordeum vulgare** دے. اوربشې د نړۍ تر ټولو زړه غله ده. خواه شاه لس زره کاله په استعمال کښې راغلې ده[25]. د انسانانو تر څنګ دا د څاروو خوراک هم دے. د دې نه ډېر مصنوعات جوړیږي. د اوربشو ذکر په احادیثو کښې هم ډېر راغلے دے. د وړوکي اختر د سرسائې د پېسو حساب هم د اوربشو د قیمت نه راویستلے شي.

اوربشې په اولسي ادب کښې هم په متلونو کښې یادې شوي دي.

۱ - اوربشې که سل منه د روپۍ شي. د خرۀ پکښې یوه لپه ده

۲ - اوبشې خۀ په زمکه کښې خۀ په جوال کښې[26]

د اوربشو ذکر خټک صبب په سوات نامه کښې د تشبیهـ په طور کړے دے.

هر هر بیت د قصیدې چې در مرجان دی
پۀ پښتو کښې تر اووربشو لا ارزان دی[27]



(https://www.nexles.com/articles/barley-hordeum-vulgare-treatments-common-diseases-pests-cereal)

۹ ـ توت: د توت دوه قسمونه دي یو ته سپین توت وائي او سائنسي نوم ئې[28] **Morus alba** دے او بل ته تور توت وائي او سائنسي نوم ئې[29] **Morus nigra** دے. عام طور توت په فولک مېډیسن کښې هم استعمالیږي . د توت لرګے د موسیقۍ د الاتو (رباب) په جوړولو کښې پکاریږي. د دې نه علاوه د توت سورے هم ډېر یخ وي

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

شاه توت د توت یو بل قسم دے۔ د دې پاڼې د ريښمو د چينجو خوراک وي۔ د دغه چينجو په مرسته د ريښمو تارونه جوړيږي۔ دغې عمل ته Sericulture[30] وائي۔

په اولسي ادب کښې توت په متلونو او ټپو کښې هم ياد شوے دے۔ لکه دا ټپه

توتان پاخهٔ شو خارو مړهٔ شوه

ما به سنډل تا به خوړل ياځاے به وونه[31]

او دا متل "چرته هندوان، چرته توتان"[32]

خوشحال بابا ئې په سوات نامه کښې داسې ذکر کوي۔

د لنګر خټک پهٔ کلي کښې زهٔ ناست ووم

فراغت د توت تر سيوري لاندې ناست ووم[33]



Source: https://cdn.britannica.com/16/9916-050-A26D40F5/Fruit-red-mulberry.jpg

نتيجه:

خوشحال بابا د غرقې مطالعې او ژورې مشاهدې خاوند وهٔ۔ هغه په خپلو اشعارو کښې د چاپيرچل سره سم د ونو بوټو ذکر کړے دے۔ د دې نه علاوه د هغه ژوره مشاهده دا ښائي چې بابا د ونو بوټو په ډېرو خصلتونو پوهه لرله۔ ځکه خو هغه دغه ونې بوټې د شعر په تنه کښې په بېلابېلو صنعتونو سره ځاے کړي دي۔ په دې مطالعه کښې مونږ د هغو بوټو څېړنه کړې ده کوم چې خوشحال په سوات نامه کښې ياد کړي دي ۔ په سوات نامه کښې د نرګس، شړشم، ډنبره، پلوسه، سبب (منه)، شلغم، انار،بهي، اوربشې او توت ذکر شوے دے۔

دې مقاله کښې د دغې بوټو تعارف په سائنسي بنیادونو شوے دے او د دغې بوټو خصلتونه بیان شوي دي . په یادو شوو بوټو کښې ځنې بوټي په موجوده دور کښې شتون نهٔ لري. د موسمي بدلون سره د سوات ډېر ونې بوټي ختم شوي دي. په سوات کښې د خوږ کدو **Pumpkin** استعمال ډېر کېدو . ولې د موسمي بدلون سره د کدو پېداوار کم شوے دے. دغه ډېر ټانګوان، الوچې، خوبانۍ او نورې مېوې د موسمي بدلون سره ورکې شوې.

وړاندیزونه:

خوشحال بابا د خپلې زمانې د سیاسي او مذهبي واقعاتو تر څنګ د خپل وطن ونې او بوټي هم په خپل لیک برخه جوړه کړې ده او تاریخ ته ئې سپارلي دي. د دې مطالعې په نتیجه دا تجویز هم ورکولے کیږي چې د نباتاتو پوهان د خوشحال بابا دې اړخ ته هم پاملرنه وکړي.

د پښتو په لغتونو او فرهنګونو کښې د بوټو د نومونو تر څنګ د هغوي سائنسي نوم هم ولیکلے شي. چې د یو بوټي په حقله بشپړ معلوماتو ته رسائي ممکنه شي.

په پښتو ادب کښې چې د کومو بوټو تذکره شوې ده په دې یوه پراخ تحقیق پکار دے چې وکړے شي. او د دې وطن د بوټو یو تفصیل وړاندې کړے شي.

د موسمي بدلون سره ډېر بوټي ختم شوي دي. په ادبیاتو کښې ئې صرف نومونه پاتې دي. ضرورت د دې خبرې دے چې د نباتاتو پوهان په دې اړه یوه تقابلي مطالعه وکړي.

---

## حوالې:

[1] خټک، خوشحال خان، ارمغان خوشحال (مقدمه سید رسول رسا) یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، ۲۰۰۹/۱۹۹۷ء ص: ۱۶

[2] عابد، عبدالله جان، پشتو زبان و ادب کی مختصر تاریخ، یونیورسټي پبلشرز ،پشاور، ۲۰۱۲ء ځلورم ځل چاپ، مخ:۶۳

[3] خټک، خوشحال خان، ارمغان خوشحال، مخ :۷۶

[4] هم دغه اثر، مخ: ۱۰۱۸

[5] Minah, James B, Ethnic groups of South Asia and the Pacific: an encyclopedia. Santa Barbara, Calif, 2011,p. 19.

6 *"Narcissus poetica". Flora of North America. Retrieved July 4, 2021*

[7] خټک، خوشحال خان، ارمغان خوشحال، ارمغان خوشحال: ۱۰۱۸

[8] Class 9th Biology Text book, Khyber pakhtunkhwa text book board peshawar, 2017-18. P.17

[9] خٹک، خوشحال خان، ارمغان خوشحال ء مخ: ۱۰۲۳

[10] "Zanthoxylum armatum DC". *Plants of the World Online (POWO)*. Royal Botanic Gardens, Kew/Science. Retrieved July 4, 2021.

[11] خٹک، خوشحال خان، ارمغان خوشحال ،مخ: ۱۰۲۳

[12] Wajid Sarwar, Pharmacological and phytochemical studies on Acacia modesta Wall; A review, The Journal of Phytopharmacology 2016; 5(4):p. 160-166

[13] خٹک، خوشحال خان، ارمغان خوشحال ، مخ: ۱۰۲۴

[14] http://www.bio.brandeis.edu/fieldbio/bersbach/EdiblePlants/rosaceae/pyrus_malus.html, Retrieved July 04 2021.

[15] http://benawa.com/pashto/mataloona/6.php Retrieved July 8, 2021

[16] خٹک، خوشحال خان، ارمغان خوشحال ،مخ: ۱۰۲۴

[17] خٹک، خوشحال خان، کلیات خوشحال (عبدالقیوم ذاهد مشوانيي)، دانش خپرندویه ټولنه افغانستان، ۱۳۷۴ل/۲۰۰۵ء مخ: ۸۹۱

[18] https://www.britannica.com/plant/turnip Retrieved July 4, 2021

[19] http://benawa.com/pashto/mataloona/5.php Retrieved July 8, 2021

[20] خٹک، خوشحال خان، ارمغان خوشحال ، مخ: ۱۰۲۴

21 "Punica granatum L., The Plant List, Version 1". Royal Botanic Gardens, Kew and Missouri Botanical Garden. 2010. Archived from the original on 11 August 2013. Retrieved July 4, 2021

[22] خٹک، خوشحال خان، ارمغان خوشحال ، مخ: ۱۰۲۴

[23] https://www.britanica.com/plant/quince, retrieved July 4, 2021

[24] خٹک، خوشحال خان، ارمغان خوشحال،مخ: ۱۰۲۴

[25] Zohary D, Hopf M (2000). *Domestication of Plants in the Old World: The Origin and Spread of Cultivated Plants in West Asia, Europe, and the Nile Valley* (3rd ed.). Oxford University Press. pp. 59–69. ISBN 978-0-19-850357-6.

[26] https:benawa.com/Pashto/mataloona/ Retrieved July 5, 2021

[27] خٹک، خوشحال خان، سوات نامه، مرتبه عبدالحیٔ حبیبي، ، مخ: ۴۵

28 *"Morus alba L." Plants Of the World Online. Retrieved July 4, 2021*

[29] *Morus nigra"*. *Germplasm Resources Information Network (GRIN)*. Agricultural Research Service (ARS), United States Department of Agriculture (USDA). Retrieved July 4, 2021

[30] https://www.britannica.com/topic/sericulture Retrieved July 5, 2021

[31] سلطان روم، ډاکټر، ټپې، شعیب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز منګوره سوات، ۲۰۱۸ ء مخ: ۷۱

[32] سلطان روم، ډاکټر، متلونه، شعیب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز منګوره سوات، ۲۰۱۳ ء مخ: ۵۳

33 [33] خٹک، خوشحال خان، ارمغان خوشحال،مخ: ۱۰۲۸